

# د نیکیو سمندر

مؤلف: نیک محمد مصطفی

Ketabton.com

M

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

دا کتاب د ښاغلی قاری نیک محمد مصطفی لخوا ترتیب سویدی چی پکښی د اسلام د مبارک دین ځینی مسنونه دعاوی او اړین معلومات راوړل سویدی

ددی کتاب ماخذونه هم د هری دعا سره ښودل سوی دی دا هره دعا د معتبرو کتابو څخه را اخیستل سویده

هیله ده چی هر مسلمان ورور تری ګټه واخلی او تر نورو مسلمانانو یی هم ورسوی او زموږ دا کوچنی خدمت ومنی او په خپلو دعاوو کی مو یاد وساتی  هیره دی نه وی چی دا کتاب د مسنونه دعاوو لومړی ټوک دی او دوهم ټوک به یی انشاالله په راتلونکی کی ترتیب سی.

په درنښت:ستاسو ورور قاری نیک محمد مصطفی

Facebook; Naik Mohammad Mustafa

Naikmohammadmustafa786@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سورت الانعام د اولو درو ایتو فضلیت:

که چا د سهار تر لمانځه وروسته د سورت الانعام اول
دری ایتونه یو وار وویل الله ج به ورته ۴۰ ملایکی
مقرری کړی چی تر قیامته به د خپل عبادت برابر ثواب
ورته لیکی او په همدی ورځ له اسمانه یو ملایکه
رانازلیږی چی یو اوسپنیز مارتول به یی په لاس کی وی
کله چی شیطان ددی شخص په زړه کی د وسوسی اچولو
اراده وکی نو هغه ملایکه دا شیطان په هغه مارتول پر دا
سر وهی چی په دی سره ددی شخص او شیطان تر منځ
۷۰ پردی جوړیږی او کله چی د قیامت ورځ سی الله ج
به دی شخص ته وفرمایی چی ته زما په سایه کی اوسه
او زما د جنت میوی خوره او د حوض کوثر اوبه څیښه
او د سلسبیل (د یوی چینی نوم دی) څخه غوسل وکه ته
زما بنده یی او زه ستا خدای یم.
ماخذ:[(تفسیر جلالین حاشیه نمبر ۲۰)]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دصلات الوابین فضلیت

که چا د ماښام تر لمانځه وروسته ۶ رکعته صلات اوابین نفل وکړل الله ج به ورته د ۱۲ کالو د عبادت ثواب ورکی دا لمونځ د ساده نفلو په ډول کیږی

نیت:نیت کوم د زړه د اخلاصه لمونځ کوم څلور رکعته یا هم دوه رکعته د صلات الوابین لمونځ په دی حاضر وخت کی خاص خدای تا لره مخ دی په لوری د کعبی شریفی الله اکبر

نور دی لمانځه ته ادامه ورکی.

نوټ: د نفلو نیت حاضر وخت ویل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کلمی طیبی فضلیت:

حدیث شریف دی چا که د سهار تر لمانځه وروسته لس واری کلمه طیبه وویل او د ماپښین تر لمانځه وروسته یی شل واری وویل او د مازدیگر تر لمانځه وروسته یی دیرش واری وویل او د ماښام تر لمانځه وروسته یی څلویښت واری وویل اود ماخستن تر فرضو وروسته یی پینځوس واری وویل او تر وترو وروسته یی شپیته واری وویل.

## الله ج ورته لاندینی بدله ورکوی:

د شپیتو لکو کالو د عبادت ثواب الله ج ورکوی او په جنت کی شپیته ښاره الله ج ورکوی چی په هر ښار کی به شپیته قصره (ماڼی) وی او په هر قصر کی به شپیته خونی وی او په هره خونه کی به د سرو زرو کټ پروت وی او پر هر کټ به یوه یوه حوره ناسته وی [رواه بیهقی]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اتیا کالو د عبادت او د اتیا کالو د ګناه معافی

دا درود شریف د حدیثو په زیاتو کتابو کی راغلی دی خو ما د ۴۰ نبوی حدیثو له کتابه را اخیستی دی

چا که د جمعی په ورځ د مازدیګر تر لمانځه وروسته د دنیاوی کارونو او خبرو مخکی ۸۰ واری لاندی درود شریف ووایه الله ج به ورته د ۸۰ کالو د عبادت ثواب ورکی او د ۸۰ کالو ګناهونه به یی الله ور معاف کی درود شریف په لاندی ډول دی.

( الهم صلی علی محمد النبی الأُمی واله وسلم وتسلیما )

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اویا زره ملایکو د رحمت دعا

هر چا که تر ۳ واری (( اعوذ بالله السمیع االعلیم من الشیطن الرجیم )) وروسته د سورت الحشر  اخیری ۳ ایتونه وویل نو هغه لره دی زیری وی چی الله ج دده لپاره ۷۰۰۰۰  ملایکی مقرره کړی چی ده ته د رحمت دعاوی کوی [ترمذی دارمی]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیله تکلیفه تهجد

لکه څنګه چی تهجد لمونځ د شپی کیږی نو معلومه ده چی د خوبه به راکښینی او اودس به کوی زور غواړی خو پرهیزګارانو او د خدای ج نیکو بنده ګانو ته بیا زور نه غواړی خو دلته به موږ داسی تهجد لمونځ دروښیو چی بیله تکیفه ادا کیږی او د تهجد ځای نیسی او د تهجد د لمانځه ثواب لری خو د شپی تهجد ته راکښینستل بیا جلا ثواب لری.

د ام المؤمنین عایشه صدیقی څخه روایت دی چی رسول الله ص به د ماخستن د لمانځه تر وترو وروسته دوه رکعته نفل کول او ویل به یی چی که څوک د شپی تهجد ته راکښینستی خو ښه تر ښه او که نه راکښینستی نو دا دوه رکعته نفل به د تهجد ځای ونیسی.[ سیرت عایشه (علامه سید سلیمان ندوی)]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جنت د اتو دروازو دعا

حضرت عمر فاروق رض فرمایلی دی چی رسول الله ص وفرمایل ستاسو څخه چی څوک په ښه ډول اودس وکړی او بیا ووایی ( اشهدُ ان لَّااله الا الله و اشهدُ ان محمداً عبدهُ و رسوله) نو هغه ته به د جنت ۸ سره دروازی خلاصی کړل سی په کومه دروازه چی یی خوښه وی و جنت ته به ننوزی په ځینو حدیثو کی تر الا الله وروسته وحدهُ لا شریک هم روایت سوی دی

خو دا حدیث شریف په ابن کثیر ۵ ټوک او ۴۳ صفحه کی دصحیح مسلم څخه اخیستل سویدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لومړی ټوک پای

## د مؤلف ناچاپ اثار:

۱- د مینی سمندر لومړی ټوک (لیکنه)
۲- د مینی سمندر دوهم ټوک (لیکنه)
۳- فولوګمی اینډ اسلام (ژباړه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**